# د بلابلوک د ګرانئ د کلی و شهیدانوته !

خـدایه! زما پرخوار اولس داڅونی جوراوجفاده
شیطانی وریځی راغلي دسرواوښکواوس ژړاده

هره خــواته دمـرګونواوجــنازي دي اوس ږغونه
په هـرکـور،کلـی هــربڼ کي جـوړه ستره واویلاده

کــرګــسانــــودغمــونــو وزرونــه دي خــلاص کړی
بی وجدانه دولت رډګوري جوړپرخاوره يې کربلا ده

اوره وي دجــنایت بم ،زمــوږپـرکلــي پــرکــورونــو
پښتنی سیموته ګـــوري ،هــــرځای يې ماتم سرا ده

امـــریکا،ناټــوځــواکـونه ، کــوي ډېرجــــنایتونه
زما پـــرخــــلکــوداغمیزه دتـــورمخ غلیم له خوا ده

دغاصب دښمن په لاس زاړاوځوان په وینوډوب سو
تربی پته ژوند مـړ ښـــه یم دامي هوډ دامي غوغا ده

دګـرانئ دخـلکـو ویـر دځـان ویـر بـــولم «عـزیـزه»
مـرده بـاد دښمـن ته وایـم،خپل شهیدته مي دعا ده

عـزیـــزاحمد خـــوارمل
بیلجیم دانتورپین ښار